# رحمت داوی

رحمت په قوم داوی او د پښتو ژبي د شاعرانو د لومړۍ ډلي څخه دئ، د اعلیحضرت شاه زمان معاصر و، او اصلاً د کندهار دئ.

رحمت ډېر سفرونه کړي او په ژوندون کي يې ډېري ترخې او خوږې ليدلي دي، دی له کندهاره ډېر عمر تللی او په کوهستان کي يې استوګنه کوله، داسي ښکارېږي چي په دې وختو کي دی ډېر بېوزلي او بېچاره و، وروسته له دغه ځايه کشمير ته تللی او هلته د پښتون نائب الحکومه سردار عبدالله خان نوکر سوی دئ، د رحمت د وفات تاريخ او ځای نه دئ معلوم، فقط د ده د تولد تخمين داسي کولای سو چي د اعليحضرت احمدشاه بابا په عصر کي زوکړی او پس له (۱۱۶۰هـ) څخه يې ژوندون کاوه، او په کشمير کي تر (۱۲۱۰هـ) پوري لا ژوندی و.

رحمت په پښتنو شاعرانو کي شهرت لري، او نور ادباء يې پېژني، مثلاً عبدالله پوپلزی دی داسي ستايي :

بل رحمت داوی کتاب لري دلـکشه
ګمان نه کړم چي بې څوک لري دفتر

اشعار او آثار :

رحمت يو د شعر دېوان لري چي متاسفانه ورك دئ او نسخې يې ډېري کميابه دي، د ده يو مهم اثر چي اوس قلمي موندل کېږي د ليلی او مجنون کتاب دئ، چي د شاه زمان د سلطنت په دريم کال ده په پښتو لنډ بحر کي په مثنور منظوم کړی او د هغه پاچا په نوم يې اهدا کړی دئ.

دا کتاب په (۱۲۱۰هـ) کي تمام سوی او تر پنځه زره بيته زيات دئ، که څه هم رحمت په کوهستان کي د دې کتاب په نظم پيل کړی و مګر هلته ده قلم او کاغذ نه درلود، نو چي په کشمير کي د سردار عبدالله خان پښتونوالي حضور ته رسېدلی دئ، د هغه مشهور سردار په معارف خواهي يې دا خپل ګرانبها اثر تمام کړی دئ.

رحمت خپل کتاب د شاه زمان په ستاينه شروع کوي، او د سردار عبدالله خان علم دوستي هم بيانوي، او داسي وايي :

| | |
|---|---|
| غمو ملك راباندي تنګ کړ | زړه مي ځکه دا آهنګ کړ |
| چي پښتو ليلى مجنون کړم | ښايي غم له زړه بېرون کړم |
| په پارسي هر چا ويلې | پښتو نه ده چا ليدلې |
| ځکه زه په پښتو ژبه | دا کيسه کړم عجائبه |
| پښتون هم خوښ باندي زړه کا | او دعا و ما ته وکا |
| سلطنت د شاه زمان دئ | دی خاقان ابن الخاقان دئ |
| پلار نيکه يې پادشاهان وو | دويه تاج د هر افغان وو |
| شکر شکر شاه زمان | غنيمت دئ دا زمان |
| نن ورځ دی سيوری د خدای دئ | عدالت کا عالي رای دئ |
| چي يې پښه کړه په رکاب | نورې کفر کړ کرياب |
| بيا يې مخ په هندوستان کړ | ده برهمه کفرستان کړ |
| ښه عادل پاچا غازي دئ | سر د کفر په بازي دئ |
| سرداري د عبدالله ده | خلقه واړه آګاه ده |
| ښايسته نېکخويه ځوان دئ | ډېر هوښياره سخندان دئ |
| د کشمير ملك يې روښان کړ | ورك يې ظلم د جهان کړ |
| په دوه کونه سرفراز شه | تر همه عالم ممتاز شه |
| تبغ د ده مدام بران وه | تل هلاك يې دښمنان وه |
| ښايسته کښلی پښتون دئ | زيات په ورکړه تر جيحون دئ |
| په دا وخت حاتم طی دئ | ډېر په ورکړه مړنی دئ |
| دی د بحر په شان تل دئ | خو نصيب د هر چا خپل دئ |
| چي ورتول يې دا خپل ننګ کړ | يو زه څه مخلوق يې رنګ کړ |
| هم په تبغ هم په دېګدان | سيال يې نشته په جهان |
| هغه دم چي خپور يې خوان سي | که کوز ستوري د آسمان سي |
| همه واړه به ماړه سي | دوی به ټوله خوښ په زړه سي |

په دې ډول رحمت خپل پاچا او خپل مربي ستايي، وروسته نو په اصلي کيسه شروع کوي.

رحمت د پښتو يو بزمي شاعر دئ او په لومړنيو کيسه ليکونکو شاعرانو کي ګڼل کېږي، کلام يې ډېر ساده او سليس او متين دئ، هر راز فکر په شعر کي ادا کولای سي او په دې سبب د پښتنو شاعرانو په لومړۍ درجه کي حسابيږي.

رحمت د ليلى او مجنون کيسه له نظامي ګنجوي څخه ترجمه کړې ده مګر دى وچ کلك ترجمه کوونکی نه دئ بلکي ځيني ابتکارونه او بداعتونه هم لري. د ليلى او مجنون کيسه په شرقي شاعري کي ډېر شهرت لري، دا کيسه که څه هم د عربو ده مګر له ډېره وخته په ايران او افغانستان او هند کي هم مشهوره سوېده، او داسي ښکاري چي په پنځمه هجري پېړۍ کي هم دې کيسې شهرت موندلی و، ځکه مسعود سعد سلېمان چي په (۵۱۵هـ) وفات

سوی او د غزنوي عصر مشهور اديب دئ هم په يوه بيت کي دې کيسې ته اشاره کوي :

گـــــردان از عشقت بحسن چو لـــــيلی

گرد بيابان و کوه و دشت چو مجنون

ځيني مولفين وايي چي مجنون د شعر ديوان هم لري او په (۷۰هـ) کاف وفات سوی دئ، د مجنون افسانه د ايران مشهور بزمي شاعر نظامي گنجوي په (٥٨٤ هـ) په څلور زره بيته د شيروانشاه په امر په څلور کاله نظم کړه[۱]، تر نظامي وروسته ډېرو نورو شاعرانو د ده پيروي وکړه، سنايي، امير خسرو دهلوي متوفي (۷۲٥هـ)، جامي متوفي (۸۹۸هـ)، هاتفي هروي متوفي (۹۲۷هـ)، قاسم، مثالي، هلالي او نورو په پاړسي او فضولي بغدادي متوفي (۹٦۳هـ)، شاهدي متوفي (۸۸۱ هـ)، حمدالله متوفي (۹۰۹هـ)، امير علي شېرنوايي هروي متوفي (۹۷٦هـ) او نورو شاعرانو په تورکي ژبه دا کيسه نظم کړه[۲].

مکتبي شېرازي هم دغه کيسه په دوه زره بيته په (۸۹٥هـ) کال نظم کړه مگر دغه ټوله ادباء د نظامي پيروان او مقلدين دي.

په پښتنو شاعرانو کي هم څو تنو دغه کيسه نظم کړېده چي په هغو کي يو زموږ رحمت داوی دئ او بل متاخر شاعر نعمت الله دئ.

د دې دوو شاعرانو کارنامې هره يوه ځانته بېل قيمت لري، نعمت الله خو په کيسه کي ډېر تغير پېښ کړی او په متوسط بحر کي يې ويلې ده.

مگر رحمت که څه هم د نظامي پر پلو پل ايښی دئ او په هغه پيرايه يې پښتو خوږه کړېده بيا هم په ځينو ځينو ځايونو کي بداعت لري او له هغه زړو مقدماتو څخه نوي نوي نتيجې اخلي.

د دې مطلب د وضوح له پاره به لاندي يو مثال وړاندي کړو :

د ليلی پلار خبر سو، چي د مجنون د عشق افسانه رسوا سوېده، او د کوچنو او لويو په خولو کي لوېدلې ده، نو ده يو سړی ورواستاوه چي مجنون مړ کي !

نظامي فقط دومره وايي مگر مکتبي شېرازي کيسه اوږدوي او وايي چي هغه قاتل مجنون ته راغی وچ کلك بدن يې وليده، غشی يې واچاوه او وې ويل :

چون مرده جز استخوان ندارد

او را چه کشم که جـــــان ندارد

مکتبي خو دا برخه ډېره زياته خوږه کړېده، مگر اوس وگورئ چي زموږ رحمت څه کړي دي؟

رحمت غواړي چي کيسه يوازي د عشق او بزم او ميني پر خبرو نه کي تمامه، بلکي ځای ځای ځيني اخلاقي افادې هم وکړي او خپل پښتانه ويونکي د خوږې کيسې په منځ کي ځينو اخلاقي حقايقو ته هم ملتفت کړي او په بل ډول يې د ادب هغه حقيقي پلو او واقعي مخ هم وبرېښوي.

زموږ پښتون اديب خو دا کار ډېر ښه کړی دئ او د ادباو له پاره د تقليد وړ دئ، وگورئ رحمت له دې حکايته د بد علم جزا او نتيجه په څه اديبانه ډول څرگندوي؟

چي مجنون په عشق ابتر شو — کل عالم باندي خبر شو
په هر ځای د ده کلام و — که خواص و که عوام و
چي مجنون نومی یو ځوان دئ — ډېر په عشق کي دی اریان دئ
د لیلی په زلفو بند دئ — ډېر ډېر ژاړي او دردمند دئ
چي ژړا یې په وای وای شوه — افسانه یې په هر ځای شوه
ډېر مخلوق د ده دښمن شوه — ټول ګویا په دا سخن شوه
چي دوستان ځوك د لیلې و — د لیلی له قبیلې و
د لیلی و پلار ته راغله — هم د ده دربار ته راغله
واړو دا مذکور آغاز کړ — نه یو ځله په باز باز کړ
چي یو ځوان په مینه زېر دئ — د لیلی ذکر یې ډېر دئ
په فلانه بیابان کي اوسي — دی زموږ په زیان کي اوسي
بدنامي یې تر حد تېره — په عالم کړه زموږ ډېره
هره ورځ غزلخواني کا — دی په نام یې د فلاني کا
چي په موږ راسي افسوس کا — ګاهی رقص، ګه زمین بوس کا
هر دم هسي غزل وایي — چي لیلی ورپکښي ستایي
دی د غم له سوزه سازه — ډېر خوشخوان دئ خوش آوازه
په هر دم چي دی بلغاك کا — روغ تندرست زړونه چاك چاك کا
وایي دی خلك یې یاد کا — زموږ د ملك نامه برباد کا
لیلی هم ورپسي داغ ده — دی پتنګ دئ دا یې څراغ ده
ته یې وترټه بسیاره — چي لاس واخلي له دې کاره
د لیلی پلار چي خبر شو — په دا حال خوږ یې ځګر شو
په خوله لال شو له حیرته — پېچ یې وخوړ له غیرته
ده ویل درومئ سر یې پرېکړئ — سپني توري په ده سرې کړې
چي و چا ته نصیحت شي — او بل چا و ته عبرت شي
که یې ځوك دعوه د خون کا — بیا دي ځما احوال زبون کا
تاسو خلاص یاست همه واړه — د ده خون ځما په غاړه
نور تري پورته یو ښه ځوان شو — د مجنون په لور روان شو
همېشه یې په لار یون کړ — ستجوی یې د مجنون کړ
ناګهان یې په بیابان — مجنون ولیده عریان
د جهان ننګ یې پرېښی — تنها ناست له خلکه ګوښی
ورنژدې چي هغه ځوان شو — تېغ یې وکیښ ور روان شو

| | | |
|---|---|---|
| | | ج |
| چي ګذار يې پر کاوونه | | لاس يې هسك ودرېدنه |
| وچ شو هسي دی پر پاس | | چي کوز نه شو هغه لاس |
| په دا لاس يې کله دريغ کړ | | په بل لاس يې هغه تبغ کړ |
| چي يې بيا قصد په وهل کړ | | دا بل لاس يې هم خدای شل کړ |
| کرامت چي ورڅرګند شو | | د قاتل زړه په ګزند شو |
| ژر نسکور د ده په پښو شو | | په مخ سر د پښو په مښو شو |

| | | |
|---|---|---|
| په بار بار زاري يې کړله | | هم منت باري يې کړله |
| ده ويل ته د خدای دپاره | | ما کړه خلاص له دې آزاره |
| په لاس شل په مخ سياه شوم | | په سزا د خپل ګناه شوم |
| څما له لاسه بدي وشوه | | رامعلوم چي نېکي نه شوه |
| لاس مي شل بدي مي وکړه | | اوس دعا کړه لاس مي ښه کړه |
| و قاتل ته مجنون وويل | | څما بزرګو ډېر دي ښه ويل |
| چي په بدو پسي ګرزي | | عاقبت په څاه کي پرزي |
| چي د بدو طلبګار شي | | خود په بدو ګرفتار شي |
| په نېکي بدي انسان کا | | دواړه څان لره عيان کا |
| چي نېکي کړي نېکي مومي | | چي بدي کړي بدي مومي |
| څو دي لاس رسي نېکي کړه | | پس له دې ترکه بدي کړه |
| اوس ور درومه لاس دي جوړ شه | | او له بدو دي زړه سوړ شه[٣] |

لمن ليکونه :

١. ايرانشهر ج ٣/٤٠٨ مخ.

٢. کشف الظنون ج ٢/٢١٦مخ.

٣. کابل مجله، ١٣٢٠ش کال، ٤ مه ګڼه، ٢٩ - ٣٢ مخونه.